د ټولنيزه اصول BGB د ۱۸۳۵ او ۱۸۳۵ الف مادو له مخې
د وياړيزه (فخري) پالونکو د لګښتونو د مجرا ورکولو
په حق له معلوماتي پاڼه[۱]

پالنه اصلاً پرته له لګښتونو (وياړيزه) سر ته رسيږي. د پالونکې يا پالونکي په توګه مګر تاسې ته د مل لګښتونو، کوم چې تاسې ته د دې کار په غاړه اخيستلو له کبله در آوښتي، مجرا درکول کيږي.

## ۱. په اټاله توګه سره مجرا، د ټولنيز اصول BGB ۱۸۳۵ الف ماده

د لګښتونو مجرا د ټولنيز اصول د ۱۸۳۵الف مادې له مخې اوس مهال په اټاله توګه سره په کال کې ۴۰۰ يورو ده. د دې مجرا د اخيستلو لپاره د پالندويه محکمې کوم تصيدق ته اړتيا نشته.

دا مجرا کال په کال ورکول کيږي، د لومړي ځل د پاره د پالندوی له ټاکلو څخه يو کال وروسته. ستاسې پاملرنه دې ته را اړول کيږي، چې د ټاکلې مجرا غوښتنه هغه وخت له منځه ځي، کله چې تاسې خپله غوښتنه له هغه څخه د وروسته کال د ۳ مياشتې تر ۳۱ نېټې پورې ورنه کړئ. دلته خبره د بې برخې کېدنې د ټاکلې مودې ده، د هغه له پوره کېدلو سره بيا غوښتنه په نظر کې نيول کېدلی نه شي.

د بېلګې په توګه:

د پالنې کال په ۱۵/۸/ ۲۰۰۹ نېټه پای ته رسيږي. غوښتنليک ښايي چې تر ۲۰۱۰/۳/۳۱ نېټې پورې ورکړل شي.

د غوښتنليک فورمه د غوښتنې سره سمه درکول کيږي. غوښتنليک کېدلی شي پرته له فورمې څخه هم ورکړل شي.

## ۲. د لګښتونو مجرا، د ټولنيزه اصول ۱۸۳۵ ماده

که چېرته ستاسې لګښتونه له ۴۰۰ يورو څخه زياتيږي، نو ښايي چې هغه په پوره توګه ثابته کړئ (د کتنې ورځ، کړې ټلفونونه، د ډاګ کرايه د اخيستونکې له پټې سره او داسې نور.) له خپل موټر سره د تګ په صورت کې د هر کيلومټر د پاره ۴۲ سنټه ورکول کيږي.

د ځانګړو ځانګړو لګښتونو د غوښتنې حق هغه وخت له منځه ځي، که چېرته يې تاسې د هغه له منځ ته راتګ څخه تر ۱۵ مياشتو پورې له اړوند کس او يا له پالندويه محکمې څخه ونه غواړئ.

## ۳. د غوره کونې حق

کېدلی شي په اټاله توګه سره پرته له ځانګړو ثبوتونو څخه او يا د مل لګښتونو د مجرا غوښتنليک ورکړل شي. کوم بڼه چې ستاسې په ګټه ده هغه غوره کړئ. **انتخاب ته به غاړه ايښول کيږي.**

## ٤. د مجرا ورکولو بهير

که چېرته اوړوند کس **بې وزله** وي، ګټه يې د ټولنيزې مرستې له کچې Sozialhilfesatz څخه کمه او نوره دغومره شتمني هم ونه لري چې د اجازه لرونکې کچې څخه زياته وي، نو بيا ستاسې لګښتونه د غوښتنې له مخې له ايالتي ځېرمې (بانک) څخه درکول کيږي.

اجازه لرونکې شتمني اصولاً ۵۰۰۰ يورو ده.

که چېرته اړوند کس په بسيا کچه سره **ګټه** ولري او يا **شتمن** وي، نو بيا کولی شئ خپل لګښتونه د ځانګړو ځاګړو ثبوتونو سره (بره ۲. شمېره) **پرته له غوښتنليک** (عريضې) څخه، له منځ ته راتګ نه وروسته سمدلاسه د اړوند کس له شتمنۍ څخه واخلئ. که چېرته تاسې په اټاله کچه سره د لګښتونو مجرا غوره کړې وي (بره ۱. شمېره)، نو

بیا تاسې کولی شئ د پالنې د کال له پای ته رسېدو وروسته یې د اړوند کس له شتمنۍ څخه واخلئ. جاج اخیسته بیا د حساب ورکولو او یا رپوټ ورکولو په چوکاټ کې تر سره کیږي.

---

۱ د یادداشت دا پاڼه طبعاً د وصي یا سرپرست او پالونکو د پاره هم د اعتبار وړ ده.